سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۱۲/۳۰

# نوی کال

هر کال چې نوی کیږی، زیږوی غمونه نوي
په خوارو انسانانو، خوروي مرګونه نوی

کیسه مې اوریدلې، د یومُ الْبدتر پخوا وه
راځي چې هره شپه، نوجوړوی رنځونه نوي

واړه واړه دردونه، پیداکیږی هر بدن کې
که پاتی بې علاج شی، رسوي دردونه نوي

یو بل ته ورکوو، مُبارکی د نوي کال
هرنوی کال هرکال راته، راوړی زخمونه نوي

دا تیرخلوېښت کلونه، مې په یاد دي نه دي هیر
هرکال ښخ کړی ډیر، په هدیرو سرونه نوي

سږ کال مُبارکی، درته نه وایم کلیوالو
کیدای شي په دی ختم شي، د غم کلونه نوي

په همدی هیله.

دسمبر/۲۰۲۱/۲۸ تورنتو - کاناډا



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com